د ځوانانو شهادت سرلیک ...
شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (١٠٣٠) سال هژدهم ،شمارهٔ (١١٦) یکشنبه (١٢) قوس ١٣٧٤ هـ ش . (١١) رجب المرجب ١٤١٦ هـ ق (٣) دسمبر ١٩٩٥ م

دبگرام په هوایی ډګرکی دروسانو یوه مفرزه ځای پرځای شوی ده

دنظارشورامشرمسعود دغه روسی مفرزه دهوایی ډګر په محل قومانده کی ځای پرځای کړی ده

هره ورځ په لسګونو روسی الوتکی دبګرام په هوایی ډګر کی راکوزیږی

دبګرام دهوائي ډګر یوه تن افسر دشهادت خبریال ته وویل : اوس اوس دبګرام په هوائي ډګرکي دروسانویوه مفرزه جوړه شوي ده . په دغه مفرزه کي روسي پیلوټان ، انجنیران ، تخنیکاران شامل دي .

دکابل په اداري پوري مربوط دهوائي قوا دغه افسرچي دخپل نوم له افشاکولونه ئي ډډه وکړه زیاته ئي کړه .

دبګرام په هوائي ډګرکي دروسانو دغه مفرزه وروسته له هغي جوړه شوي ده چي طالبانودکابل له اداري څخه دشیندند او هرات ستراتیژیکه سیمه ونیوله . په دغه مفرزه کي میشت روسان دکابل داداري لپاره دجنګي الوتکوپه ترمیم بوخت .ي اوپیلوټان ئي کله ناکله الوتني هم کوي .

دنظارشورا مشرمسعود روسي افسران دبګرام دهوائي ډګرپه محل قومانده کي ځاي پرځاي کړي اوپه دغه ځاي کي ئي دژوند د بیلابیلو سهولتونو پرته دروسانو دهاومن امنیت پخاطر مسعود خپل اعتباري کسان دمیشتوروسانودامنیت لپاره توظیف کړي او دمحل قوماندي امنیتي چاري ئي هغوي ته سپارلي دي .

دهوائي قواوودغه افسرزیاته کړه : په دي وروستیو وختونوکي دبګرام په هوائي ډګرکي روسي الوتکي دکابل داداري داکمالولو په مقصد یوه پرله پسي کوزیږي اوداالوتني له هغي هم زیاتي دي په کوم وخت کي چي روسي برغلګرو لښکروژمونږ په هیواد قبضه کړي وه .

هشتاد درصد شهریان کابل با خطر قحطی مواجه اند

کابل – ١١ قوس :

کمیته بین المللي صلیب سرخ از به معرض قرارګرفتن قحطي هشتاد فیصد مردم درکابل ،هشدارداد .

به ګزارش فرانسپرس پیتروستاکر، رئیس این کمیته درحالي که ازاوضاع کابل و مواجه بودن مردم بمشکلات فراوان اقتصادي اظهارنګراني نمود مي ګوید: درحال حاضر بیش ازبیست فیصد شهریان کابل بامشکل قحطي وفقدان مواد خوراکه وارتزاقي روبرو مي باشند .

رئیس کمیته صلیب سرخ هشدار داد که درصورت دوام بندش راه هاي مواصلاتي ، کمبود وبلندرفتن قیمت مواد غذایي وسوخت درشهرکابل ٨٠ فیصد مردم را بامشکل قحطي مواجه خواهد ساخت .

اظهارات وي درحالي صورت مي ګیردکه مواد سوخت ازقبیل تیل، ذغال وچوب بکابل وارد نمي شود ومردم روزهاي دشوار وطاقت فرساراپشت سرمي ګذارند .

براساس بیانیه وزارت خارجه امریکا :

کشورهاي منطقه ازارسال اسلحه به ګروهاي درګیردرافغانستان خودداری کنند

ګروهاي درګیر، جنګ رامتوقف وحکومت مشترك راتشکیل دهند

پشاور – ١١ قوس :

وزارت خارجه امریکاازګروه هاي درګیرافغان خواسته است تاآتش بس نمایند و اداره یي که مورد تائید همه احزاب باشد تشکیل دهند .

به ګزارش مطبوعات پاکستان وزارت خارجه امریکابا انتشار بیانیه یي ازحمله اخیر راکتي وبمباران برشهرکابل اظهارتاسف نموده وبرګروه هاي درګیرتوصیه نموده است که ازجنګ بپرهیزند .

همچنان دراین بیانیه وزارت خارجه امریکا، ازکشورهاي منطقه خواسته شده است تاجریان ارسال اسلحه به ګروه هاي افغان مورد نظرشان رامتوقف سازند تاګروه هاي درګیرمجبور به مذاکره شوند وبدین طریق بحران افغانستان خاتمه یابد.

ورورحکمتیار داحمدخیلو اوځاځیو د ولسوالیو له قوماندانانو سره وکتل

ددغوولسوالیو قوماندانانودهرډول مرستی ژمنه وکړه

دلیندي ١١مه :

دحزب اسلامي سکرتریت دشهادت خبریال ته وویل : دحزب اسلامي افغانستان امیر وروړ حکمتیار ورمه ورځ په ځاځیوکي داحمدخیلو اوځاځیو دولسوالیو له یوشمیر قوماندانانو سره وکتل .

ددي کتني په ترځ کي ورووحکمتیار دهیوادپه روانوحالاتوله قوماندانانو سره خبري وکړي .

دورووحکمتیار سره ددغي کتني په موقع دحزب اسلامي له اړخه دتوحید دفرقي قوماندان سیدکمال،جنرال نوازخان، قوماندان عبدالجبار اوداتحاد اسلامي له اړخه حاجي خان د بازك، اونواب برخه اخستي وه .

دکتني ګډون کونکو دخپلوولسوالیو داوسیدونکو په نمایند ګي ورووحکمتیارته دهرډول مرستي ژمنه وورکړه .

وروسته وروړ حکمتیار دتوموړیو ولسوالیو د اوسیدونکو دستونزو دحل په اړوند دهرډول مرستاوهمکاریو ډاډ ورکړ .

طالبان له هماهنګی شوراسره دګډی جبهی دجوړیدواعلان ته چمتودی

دجنبش اوحزب وحدت دسوروالی له امله خبری اتری ځنډیدلی دی

دطالبانوماتی اودبروجردی ماموریت پاکستانی واکمن پریشان کړی دی

دحزب اسلامی مسئولینوله خپل قیادت نه په مذاکراتوکی دګډون لپاره دستورغوښتی دی

اسلام آباد – دلیندي ١١ مه :

یوي باوري منبع « شهادت » ته وویل چي پرون طالبانواوځینونورو حلقو دهم آهنګي شوري له ډیرو سره تماس نیولي اوله هغوي نه ئي دخبرواترو دادامي غوښتنه کړي . منبع وایي چي طالبانواونوموړیو حلقو ډاډ ورکړي چي طالبان له هم آهنګي شوري سره دګډي جبهي دجوړیدو اعلان ته چمتودي اوزیاتوي چي دمعاهدي متولو جزئیاتو تر پاس کیدو وروسته دي دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي دګډي جبهي جوړیدل اود معاهدي مندرجات اعلان شي .

منبع ځرګنده کړه چي ئي باید په اسلام آباد کي بیا غونډه شوي واي خوددجنبش ملي اسلامي افغانستان، اوحزب وحدت اسلامي افغانستان ، استاځو دزیاتي دلچسپي دنه ښودلو په وجه غونډه وځنډیدله .

منبع وائي چي دجنبش ، اوحزب وحدت، داستاځیودلچسپي د نه ښودلو اصلي وجهه تراوسه سمه نه ده ښکاره شوي. څیني حلقي دهغوي داسوروالي په دي پوري مربوط ګڼي چي کیداي شي له خپلومشرانو نه ورته کافي توضیحات نه وي ورکړل شوي اودهغوترلاسه کولو په انتظار وي اوځیني بیا په دي نظردي چي شاید دهغوي ددي سوروالي ترشانوري سیاسي انګیزي پرتي وي .

یوي بلي منبع داهم وویل چي په اسلام آباد اوپیښورکي دحزب اسلامي مسئولینو هم دحزب له امیرنه مذاکراتوته دتلولپاره دستورغوښتي اوپه پام کي ده چي ئي له ځاځیونه په دي باره کي توضیحات اولارښوونې ورکړي شي .

له بلي خوا ویل کیږي چي دپاکستان واکمن دطالبانو وروستي ماتي او په افغانستان کي دایران دبهرنیوچارو دمرستیال علاوالدین «بروجردي» ماموریت ډیرپریشان کړي دي.

سیدمقبول اودهغه مرستیال رؤف په پنجشیرکي بندیان دي

دنظارشورا افراد دڅرخی پله اوده سبز په سیمو کی دحرکت انقلاب اسلامی کسان نیسی

دلیندي – ١١ مه :

په حرکت انقلاب اسلامي پوري مربوط دچرخي پله دسیمي یوه تن مجاهد دشهادت خبریال ته وویل : له کله نه چي څوورځي وړاندي طالبانو دبت خاك اوچرخي پله زندان ترخپلي قبضي لاندي راوستي و ددغي سیمي دحرکت قوماندان سید مقبول اودهغه معاون عبدالروف دچرخي پله له سیمي څخه دصافي غره لښوته وتښتیدل . هغوي دنظارشورا دمشرمسعود لسه ویري تښتیدلي وو. خودنظارشورا مشر مسعود دده سیزدسیمي داتحاد قوماندان ملارازق ته ډاډ ورکړي چي سیدمقبول اوروف بیرته په خپلو پخوانیو وظیفو دچرخي پله سیمه ته راولي . ملارازق هم دمسعود په خوله اعتبار وکړ اودحرکت دغه دوه تنه قوماندان ئي سیمي ته راوستل خو دنظارشورا مشرمسعود دخپلوکړیو ژمنو پرخلاف سیدمقبول اوروف نیولي اوپنجشیرته ئي استولي دي.

دعیني شاهدانوپه قول دنظارشورا افرادو دچرخي پله په سیمه کي په حرکت انقلاب اسلامي پوري تړولي مربوطي سپکي اودرندي وسلي ترخپلي قبضي

(٤)مخ

شکست اخیرطالبان موجب انعطاف پذیری آنها خواهد شد

مسکو– ١١ قوس :

عقب نشیني نیروهاي طالبان درمناطق جنوب شرق کابل باعث تأمین امنیت درکابل خواهد شد.

به ګزارش ایتارتاس مبصران روسي درارتباط به پیشروي هاي اخیر نیروهاي اداره رباني وعقب نشیني قواي طالبان درجنوب شرق کابل مي ګویندکه دراین صورت شاهراه شرقي کابل منتهي به ولایات شرقي افغانستان باعقب زدن طالبان بازشده وخطر مسدود شدن این راه ازبین رفته است . طالبان هم دیګرتوان تصرف دوباره مناطق مذکورراتخواهند داشت .

ص(٤)

صحنه‌اي ازبرخورد تفنګداران روسي درتاجکستان بااتباع بیدفاع این جمهوري

براساس قطعنامه طالبان دراجتماع کویته :

طرح مستیری مردود ، ادارهٔ کابل غیر قانونی وتفاهم بار بانی ناممکن است

طالبان به جنګ باادارهٔ کابل ادامه میدهند ودر اتحادی که این اداره شامل باشد شرکت نمی کنند

کویته – ١٠ قوس :

طالبان طرح صلح هیئت میانجیګرسازمان ملل متحد راردنموده برادامه جنګ بانیروهاي رباني تاسقوط اداره کابل تاکید کردند .

روزنامه فرانتیرپست از کویته ګزارش میدهد. نمایندګان طالبان دراجتماع بزرګي که روزپنجشنبه در میدان فوتبال شهرکویته دایر شده بود ضمن سخنراني، هرګونه کمك وحمایت بیګانګان ازین ګروه راتکذیب نموده ګفتند که در جنګ بااداره کابل تنها بوده وهیچ کشورخارجي از آن ها حمایت نمي کنند . مولانا عنایت الله ،مولوي عبدالله ،مولوي عبدالصمد، مولوي فدامحمد، مولوي عبدالظاهر، مولوي عبدالرحیم ، مولوي غلام سرور وقاري انورالحق حقاني دربن اجتماع سخنراني نمودند. سخنرانان دریافت کمکهاي بیګانګان را تکذیب نموده ګفتند که عوامل موفقیت هاي طالبان درجبهات نصرت خداوند وحمایت مردم بوده است .

آنها علاوه نمودند که افغانهاي تحت رهبري طالبان عنقریب وارد کابل خواهند شد وحکومت اسلامي درافغانستان تاسیس خواهند کرد.

براساس همین ګزارش سران طالبان طرح محمودمستیري وکمیسیون بیست وهشت عضوي هیئت سازمان ملل رارد نموده ګفتند ، اسماي افرادي درلست این کمیسیون ثبت شده که دست هاي شان بخون افغان ها سرخ بوده وبرخي ازآنها مسئول ویراني کشوراند .سران طالبان دربن اجتماع یاد آور شدند که اسماي افراد شامل درکمیسیون یادشده که ازطرف نماینده سازمان ملل براي دوره انتقال پیشنهاد شده اند هیچګاه نه صلح رامپتراند برقرارکنند ونه شریعت را نافذ میتمایند .

آنها الزام واردنمودندکه اداره رباني

ص(٤)

چکری به تصرف قوای ربانی درآمد

دربمباران هاي هوایي وراکتي اخیرشهرکابل بیش ازچهل وسه نفرکشته ویازخمي شدند

کابل – ١١ قوس :

درسه روزګذشته درحالیکه شهرکابل هدف حملات وقفه یي هوایي وراکتي طالبان قرارداشت نیروهاي اداره کابل دیروز منطقه چکري رامتصرف شدند .

به اساس ګزارش رسانه هاي خبري بین المللي روزپنجشنبه چندین راکت بالاي شهرکابل پرتاب شدکه خسارات وتلفات مالي وجاني فراواني بهمراه داشت که درنتیجه هفده نفر کشته وبیست وشش تن مجروح شدند. به اساس ګزارش ، مسجد پل خشتي نیزهدف پرتاب راکت قرارګرفته است .

منابع اداره کابل مسئولیت این حملات رابرګروه طالبان حواله کرده اند اماجنبش طالبان مانند ګذشته اظهار میداردکه آنهابالاي اهداف نظامي دست به عملیات میزنند نه بالاي اهداف ملکي .

همچنان منابع خبري ګزارش دادند که نیروي هوایي طالبان صبح روز جمعه دریك

ص(٤)

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

حزب اسلامی او د کابل اداری دمخالفینو قیادت

داهیڅوک نشي ویلاي چې حزب اودهغه قیادت په تیرو څه دپاسه دري نیموکلونوکي اشتباه وي نه دي کړي، فرصتونه ئې نه دي ضایع کړي اودحالاتو په چلینجونوکي تري کمزوري نه دي څرګند شوي ،مګر دېرېه بي انصافه وي هغه څوک چې په دي اعتراف ونکړي چې په کوم منطق اومعقولیت چې حزب اسلامي دېوه لوي اوخطرناک ائتلاف په خلاف داپوزیسیون جبهه رهبري کړه ،هغه دافغانستان په سیاسي تاریخ کي مثال نه لري .

موږ داخبره دېوه پوچ شعاراوتشي ادعا په توګه نه کوو، دهغي لپاره داسي دلایل اوشواهد لرو چې دپټېدونه دي .

د۱۳۷۱ کال دثور تربدلون وروسته ټول قوتونه په بیلابیلو رنګونو اومیلانونو په یوه جبهه کي ودریدل اوحزب په بله کي .

دېرژرحزب د کابل دائتلاف په خلاف اولس دېوي ستري برخي داحساساتو او کرکي په موج سپورشو، اوورځ په ورځ ئې قوت ، مشروعیت ، نفوذ اومقبولیت پراخ شو ، پراخ ولسي ملاتړ اودرانده وسایل اوامکانات ئې په لاس کي پریوتل ، په ننګرهار،لغمان ،پکتیا اولوګرکي چې دحزب دامیر په درناوي کي کومي ستري غونډي وشوي، ددي ولایتونو په تاریخ کي ئې ساري نشته اودنظامي قوت حال ئې داوچې کله ئې دهاغه کال په اسدکي دائتلاف پرضد بریالي جګړه وکړه زیاتو دوستانو ئې دانظردرلودچې دي جګړي دتولو کتنوباوجود حزب ته بولوي تاوان داوارواوچې دهغه بهرني دښمنان ئې ورته حساس کړل اوپه دي ئې لاباوري کړل چې حزب بولوي اوخطرناک طاقت دي چې باید دځپلولپاره ئې خپل فعالیت ژور اوګړندي کړي .

خوحزب له دي سره سره چې دولس دېوه مقدس احساس اوکرکي درهبري په ستبیج ولاړوو، لوي نظامي ځواک ورسره و، دځپلي هرراز برلاسي درلودو باوجود نه جګړه دبحران حل وګڼله ، نه ئې بیځایه امتیازغوښتنه وکړه ، نه ئې دجبهي شاته دچاپه تصفیه لاس پوري کړ، نه ئې دچاحضور اونقش تهیدکړ، نه ئې دچاتاثیراوبرخه نفي کړه ، نه ئې منفي روشونو ته لاس واچاو، نه ئې دخپل ولس په خپلواکي دسوداګولو فکروکړ، نه ئې دچاپه توهین لاس پوري کړاونه ئې دسولي هیڅ طرحه اوپیغام ردکړ .

کوم بالانصافه کس به له دي سترګي پټي کړاي شي چې حزب ان له هغه پیله په خومره اساني کولاي شواي چې له پلچرخي نه ترطورخمه ساحه ټوله تصفیه کړي ، او په لوګر، پکتیا، وردګو ،غزني ، پکتیکا اوخوست کي خپله بشپړه اوبي اشتراکه واکمني ټینګه کړي .

حزب حتیٰ تروروستیو وروستیو لحظو پوري په ریښتوروکي په اتحادپوري مربوط دقوماندان داود قرارګاه تحمل کړه ، په محمدآغه کي ئې داتحاد معلم توروزغامه ، ترڅوچې یونیم کال وروسته په سروبي کي دجمعیت ،اتحاد اودهغوي دنورو ائتلافي تنظیمونو قوماندانانودحزب په خلاف جګړه نه وه پیل کړي، حزب ورباندي غرض نه کاوه .

داخبره ددي لپاره بو ښه ثبوت دي چې حزب اسلامي ددي پراخ ظرفیت لري چې نوروزغمي ، درناوي ئې وکړي اوپه ګډه ورسره دهیواد چاري سنبال کړي، ځکه څوک چې دچاحضور اوموجودیت په ولسوالي اوولایت کي نشي زغملاي ، هغه ئې په هیواد کي هم نشي تحمل کولاي .

حزب په مسئولانه احساس له نوروسره دتفاهم،دیالوګ اوائتلاف لارپرانیستله اوهم آهنګي شوري ئې جوړکړه ، دي شوري چې (اوله) دهیواد دبحران په حتموکولو کي کوم نقش ولوباوه ،هغه به دافغاني تاریخ یوه مهمه پاڼه جوړوي، البته دابیله خبره ده چې داغیارو بدي سترګي اوید نیتونه مووطن رغیدوته نه پریږدي . کنه دحزب اسلامي دي ابتکار خوزموږ په هیواد کي دکینواونفرتونو داورلمبې له اسمان نه مځکي ته راټیټي کړي .

داخبري موږدحزب دفخر فروشي لپاره نه کوو، حزب اسلامي به دا خودکول اوتردي به ئې لازیات کول ، خوموږ دسنواوېدو،ټول دمعلومولولپاره دهیواد په څه یوه کسان اوحلقي دي ته رابولو چې قضاوت ئې په بصیرت ولاروي اودي تشخیص ته ئې پام وي چې څوک څه کوي اوڅوک څه، دچاچاغور ظرفیت اوصلاحیت څومره دي اودچاڅومره ، څوک دڅه مستحق دي اوڅوک دڅه ؟

دهیواد په اوسني حالت کي

صراحت اوجرئت ته ارتیا ده

بواځې تېره اوني دکابل مظلومو او محصورو اوسیدونکو د هوائي او ځمکني بمباریو په واسطه د ۲۵۰ تنو په خواوشاکي مړي اوزخمیان ورکړیدي ، کوروونه ئې وران شوي، هدیري ئې دکي شوي ،دکابل په شفاخانوکي دزخمیانو دپټي اومرهم له پاره څه نه پیداکیږي اوکه پیداکیږي هم نوکفایت نه کوي ، دهوائي بمبارۍ اوځمکنیوراکټ ویشتلو دالړي روانه ده اوترهغي به روانه وي ترڅوپه کابل کي ناست رژیم استعفي ته نه وي حاضر شوي اویاداچې هغوي دومره توان نوي پیداکړي چې خپل مخالفین دخواوشاسیموڅخه دومره لري پوري وهي چې دوزو ووزڅخه ئې دکابل دښاریانوغوږونه ارام نه شي اودوي هم غوروځي ساړه غوږونه پادشاهي وکړي .

دکابل په ولس اوسنیوبمباریوکي دررژیم واکمنان، طالبان اودهغوي هوایي اوځمکني ځواک مجرم ګڼي اوځمکني شرایط هم همداډول دي ځکه په اوسني وخت کي بواځي طالبان اودهغوي ځواکونه دي چې دکابل داداري په خلاف په پراخه عملیاتو لګیادي، غواړي کابل دکوم بل رقیب له اشتراک پرته فتح کړي اوبیاپه ولس په تنهائي سره خپله سکه وچلوي . خوطالبان غواړي ددي عمل څخه ځان بري الذمه کړي او دلیلونه وړاندي کوي چې په دغه بمباریوکي دوي تنهانه دي بلکه په دغه ورځ نورو الوتکو (طبعاً اشاره ئې دجنبش لوري ته وه) هم دکابل په ښاربمباري کړي ، ممکن دامرګ ژوبله دهغوي په واسطه شوي وي. داچې دوي دکابل ښاریانوته پخوا څرګندې اعلان کړي چې مصئونو ځایوته خپلې کډې انتقال کړي ځکه دوي غواړي دکابل داداري نظامي تاسیسات ترحملي لاندي ونیسي، ددغه دلیلونوپه اساس دوي په دي هکله بري الذمه دي .

دطالبانودغه دواړه دلایل دومره اساسي نه برېښي ځکه چې دکابل په ښاردجنبش لخواپه هماغه وخت وزمان کي بمباري کول چې دطالبانولخوا هم ترڅېري لاندي نیول شوي، دمتحدي برنامي اوپلان پرته ممکن نه دي. ځکه چې دجنبش ځواکونه عملاً دهماهنګي په عالي شورا پوري مربوط دي اودهماهنګي عالي شورا پریکړه کړي چې ترهغي به په عملي پروګرامونوکي برخمن نه شي ترڅوچې د طالبانوسره دمذاکراتو نتایج اودراتلونکي سیاسي اونظامي پروګرامونو په هکله روښانه پالیسي اعلان نه شي. پـه دي اساس جنبش په خپلوټولو کړو وړو کي

دهماهنګي عالي شوراته مسئول دي اوتراوسه پوري ئې دهماهنګي عالي شورا داعلي قوماندانۍ له قوماندي پرته کوم داسي عملي اقدام نه دي اخستي. همدا رازدطالبانو دااعلان چې دکابل ښاریان دي دنظامي ځایونو خواوشاته خپل کوروونه تخلیه کړي هم په دي وخت کي دېرزیات عملي نه برېښي ، ځکه دکابل اولس نژدي دري کاله کېږي په سرکله په یوه غارکي اوکله په بله

اوس هماغه وشول چې پخوا کیده په هغه وخت کی دهمآهنګی شورا دی ته اړتیا درلوده چې طالبان ورسره دربانی داداری په بوطرفته کولو کی ملاتړوکړی ،اوس طالبان دی ته اړتیا لری چې دهمآهنګی شورا ورسره په دی کارکی همکاری وکړی . که په هغه وخت کی طالبانو له هوش څخه کاراخیستی وای اودربانی اداری دلیری کولو اودیوې سالمی اوصالحی اداری په رامنځته کولو کی بی دهمآهنګی شورا ته لاس ورکړی وای نوددغه یوکال په دوران کی به نه زموږ ولس په سلګونو کسان دلاسه ورکول او نه به یې دغم او تیارو په دغه اوږده موده کی یو کال تور هم په ویراو غم کی تیراوه .

دښته کي شپې او ورځي سباکوي اونورله دغه ډول اعلاناتوڅخه ستري شوي دهغوي له پاره بین المللي کومکونه هم له منځه تللي اودهجرت په وخت کي دعایداتوله پاره کومه ځانګړي منبع نلري . دطالبانوغورزنګ هم دهغوي دیوځل بیا هجرت له پاره نه کومه سیمه په نظرکي نیولي وه اونه ئې دهغوي دخوراک ،څښاک اوپوشاک په هکله کوم تدبیر درلود . دپاکستان اوایران دروازي هم دهغوي پرمخ ترلي وې، په دي اساس هغوي

پریکړه کړي چې مرګ اوژوند اویاهرحالت چې پري راځي هغه به همدلته دهغوي په کورکي وي، هغوي امن اوثبات ته اړتیالري ترڅودامن په صورت کي دخپلو ځانوله پاره یوه مړي ډوډي پیداکړي ،هغوي ته دافرق نلري چې په هیواد کي داسلامي تنظیمونواودلوڅخه څوک حاکم ږي، هغوي ته به هماغه شخصیت اوډله دقدروړوي چې دهغوي له پاره دژوند اسانتیاوي اودحلال رزق دګټلو فرصت ورپه برخه کړي .

دکابل په غیرنظامي ځایونو دبمبارۍ اوراکټ ویشتلو په نتیجه کي دطالبانو دغورزنګ حیثیت تـه پوره زیان ورورسید . ځکه دغه عمل (که هرچاکړي وي) اوس دطالبانو په غاړه کي پروت دي اودهغوي داساساتو اواعلان شوو اصولو پرخلاف یوعمل دي . ولس دااستدلال کوي چې طالبانو خو دړیني توئیدو او دجنګ دختمیدو پرخلاف دجهاد اعلان کړي و، دوي خرېه دي خاطر راپورته شوي وچې په کابل کي دغـه جنګ چې دقدرت دانحصارپه خلاف پیل شوي و په سوله ایزه توګه پاي ته رسوي. درلس ملاترئي په همدي خاطرترلاسه کړي و چې دري به دجنګیدونکو اړخونوڅخه درني اوسپکي وسلي اخلي اودهغوي ترمنځ بـه سوله رامنځته کړي، خوبرعکس دوي هم اوس په هماغه ستراتېژي کي اویادهغي نه په بدترحالت کي راونښلول شول چې پخوایي په کابل کي جریان درلود .

هغه غورځنګ چې دقندهار اوسپین بولدك ترمنځ دلاري دپوسترولري کولو اوپه دغه سیمه کي دفساددله منځه وړلوپه نـوم راپورتـه شو اودکابل تردروازو پوري ولس په پوره میرانه بدرګه کړ، اوس پخپله یوسترنظامي داسي ځواک وګرځید چې دولس ژوند په شعوري اویالاشعوري توګه تهدیدوي .

دطالبانودغورځنګ دراټوکیدو سره سم ولس اوپه ځانګړي توګه حزب اسلامي افغانستان داتوقع اوامیددرلود

چې داغورځنګ بـه په هیواد کي دظالم اومظلوم ترمنځ توپیرقایل شي او دظالم پرخلاف به دمظلوم لاس

دطالبانودغورځنګ دراټوکیدوسره سم ولس اوپه ځانګړی توګه حزب اسلامی افغانستان داتوقع اوامید درلود چې داغورځنګ به په هیواد کی دظالم اومظلوم ترمنځ توپیر قایل شی اودظالم پرخلاف به دمظلوم لاس ورتېنګ کړی . ځکه چی په هماغه وخت کی داستاد ربانی داداری مخالفو ځواکونو (دهمآهنګی عالی شورا) دکابل له نیمایی څخه زیاته برخه په خپله ولکه کی درلوده .استادربانی ونه توانید چی ارګ یا جمهوری مانۍ ته لاړشی ، دجمهوری ریاست قصر په کله دپغمان فیل خانه وه او کله به ددکو غارو اوداسی وخت پری راغلی و چی دهری خبری منلو ته تیارو . خو دطالبانو غورځنګ راټوکیدو اودهمآهنګی دشورا په عقبی جبهه کی دهغوی پرمختګونو اودهغوی داستاد ربانی داداری بیدریغه مرستو دهماهنګی شورا او په ځانګړی توګه دحزب اسلامی عقبی جبهه په خطرکی واچوله اوپه دی ترتیب یې دربانی له منځه تلونکی اداری ته دساه اخیستو مهلت ورکړ.

ورټینګ کړي . ځکه چې په هماغه وخت کي په کابل کي جنګ په پوره شدت سره جریان درلود . داستاد رباني داداري مخالفو ځواکونو (دهماهنګي دعالي شورا ځواکونو) له نیمائي کابل څخه زیاته برخه په خپله ولکه کي درلوده . استاد رباني ونه توانیدچې ارګ [illegible] ته لاړشي، زیات [illegible] وزرتونه دعظمٰي صدارت په شمول دخیرخانې مینې کورونوته انتقال شوي وو. دجمهوري ریاست قصریه کله دپغمان فیل خانه وه او کله به ددکو غارو . دکابل دررژیم واکمنان منلي دي ته اړشوي و چې کابل به پره منده پریږدي، هرڅس اوخاشاك ته به ئې لاس اچاوه ، دسولي دري هیئتونوئي په یوه وخت کي مصروف کړي وو . ترڅودبحران څخه دوتلو یوه ابرومندانه لارڅانته پیداکړي، داسي وخت پري راغلي وچې دهري خبري منلوته تیارو . خو دطالبانوغورځنګ راټوکیدو اودهماهنګي دشورا په عقبي جبهه کي دهغوي پرمختګونو اودهغوي سره داستادرباني داداري بې دریغه کومکونو، دهماهنګي دعالي شورا اوپه ځانګړي توګـه دحزب اسلامي عقبي

جبهه پـه خطـرکي واچوله اوپه دي ترتیب ئې دریاني دلـه منځه تلونکي اداري ته دساه اخستومهلت په لاس کي ورکړ. حزب اسلامي افغانستان دخپلو قهرمانوقوماندانانو له لاري هڅه وکړه اووړاندیزئې وکړ چې دطالبانوغورځنګ په غربي جبهاتوکي دپراخه نظامي عملیاتوپرځاي دلـته په کابل کي دهماهنګي دشورا په لیکو کي پوځاي داستاد ربـاني داداري دله منځه وړلو اوپاهغه استعفي تـه په اړکولو کي متحدانه کار وکـړي . خـو دطالبانو دغورځنګ مسئولینو په هغه وخت کي دهوش پرځاي دجوش نه کاراواخست ، زیات شمیر قهرمان مجاهد قوماندانان ئې خلع سلاح کړل مجاهدین ئې دخپلو سیموڅخه وویستل اودټولوتنظیمونو په خلاف ئې دجدوجهد او دهغوي دخلع سلاح کولو اعلان وکړ .

دحزب اسـلامي او دهماهنګي دعالي شـورا دنوروځواکونو دنیت خلوص دومره زیات وچې دطالبانو دغه غزني وماته خپل مرکزونه ئې ورته تخلیه کړل اودجـنګ لمړني خط ئې طالبانو ته پرېښود، اوپخپله ئې په داسي حال کي چې دریاني داداري دکلك مخالفت عقده بي په زړونو کي وه ددریمګړي حیثیت غوره کړ .

اوس هماغه وشول چې پخواکیده ، په هغه وخت کي دهماهنګي شورادي ته اړتیا درلوده، چې طالبان ورسره درباني داداري په یوطرف تـه کولوکي ملاتړوکړي ، اوس طالبان دي ته اړتیا لري چې دهماهنګي شورا ورسره په دي کارکي همکاري وکـړي . خرېه دي دوران کي نژدي یوکال تیرشو، که په هغه وخت کي طالبانو دهوش څخه کاراخستي واي اونورو دلایلوته ئې غوږ ایښي واي اودرباني داداري دلري

(٤)مخ

حال دویلو لایق ندی

دانصاف دزمانی دی چی نن هسی پرون هسی

میوند

ختلي و . دهغویوځیانوځانګړي هدیره چې دیـوه غیور او میړني ولس دآزادي ،عقیدي اوتشخص خلاف بي دزور، ظلم اوبرغل نارواجګړي تـه سوق شوي و اودیوه قهرمان تش لاسي او پـه آزادي مین ولس دمقـاومـت غښي بي په ځیګرښخ وو څه موده مخکې رادیو خبریال ښاغلي داو دجنبش په حیل ریوټ کي ددغي خبري انکشاف وکړچې دآذربایجان په یوه ځانګړي هدیره کي دهغو افغـانانـو مـړي ښخ شوي چې

دآذربایجان پـه جګړوکي وژل شویدي . ماته لدغي هدیري اودغي خبري سره هغه هدیره اوهغه خبره راپه زړه شوه . هغه خبر اوهغه [illegible] دافغان ولس دملي غرور ، عظمت ، [illegible] اوسرلوړي نخښه وه او زي په [illegible] دغه هدیره دافغانانو دهغه [illegible] بي دااوږدجنبش په وینا [illegible] نوم ورېوري شوي عکاسي [illegible] کوي، پدي هکله زیاتي خبري خویادکولو نه دي اوکه دکولو وي هم نودخپریدو خوبیخي ندي ...

په ژوندیوافغانانو چې څنګه ټوله دنیا وګه ده دغسي بي په مروهم دنیاوګه ښکاري اوس خود افغانانو له ژوند یواومرو دواړو دنیا مره ده تـه بي ددنیا پرمخ ژوندیوته ځاي شته اونه بي دځمکي په زړه کي مروته ،ټوله دنیا اوهرڅوك وريوري تنګ دي ، هغوچې پرون دآزادي مبارزاو د سره استعمار په وړاندي دمقاومت علمبردارګاڼه آفرینونه بي ورکړل ستاینه ارمانځنه بي کوله دحق ،عدالت اوانسـانیت مدافع بي باله نن بي غندي،

تروونه اوالزامونه پري لګوي ، کرکه تري کوي په بدو نومونویي یادوي ، پرمخ بي سرحدونه اودروازي ترلي ،ښري بي ، تړټي بي اوونې بي .

افغانان ټول مره دي، په ژوند مره دي ، ژوندي بي هم مره دي، وطن بي ټول هدیره دي، کنډواله دي، دژوند هره نغمه دمرګونو هیوالاغلي کړي اودژوند په ټولو خوږوکي دمرګ زهرګډدي ،دژوند په هره موسکا دمرګ ، ویراوسکوت خپوردي هر طرف مرګ دي، ژوند دهرچا داوږوبار دي وېردروند باردي ، دغه درانه بارنه ټول په تنګ دي نوردغه دروند بارنښي اوچتولي ځکه خو بي هدیرو اوقبرونو ټوله دنیا په سراخیستي ، کوروونه بي هم لکه قبرونه تیاره او تریـډلي دي چوپه چوپتیاده ژوند تري کډه کـړي، دمرګونو حکومت دي دمرګونو راج دي اودمرګونو غـوبل دي، دهدیرو وطن دي دقبرونو عالـم دي اود جنازو غم دي خودماتم هیڅوك هم نشته . په ماښامونو مودمرګ دبلاسیوري دي پروت دورځي موسري شوي سهارونو باندي اور پوري شو

هغه وخت چې دجهاد دعظمت له برکته دافغانانو سربه ټوله نړي کي لوړ او دهمت شمله بي هـسکه وه یوي پاکستاني خپرونې یو ژورنال خپورکړ چې ورسره بي دهغه هدیري تصویر هم چاپ کړي و ، چې دافغانستان پـه جګړه کي دوژل شویو روسي منصبدارانو اوپوځیانومړي پکي ښخ شوي وو . زمااوس له یاده وتلي چې دغه هدیره دمسکوپه کومه برخه کي ښودل شوي وه خو دژورنال محتوي مي ښه په یاد ده . دغه هدیره چې سلګونه وژل شوي پوځیان پکي ښخ و یوه لویه لوحه درلوده اودهرقبردپاسه دوژل شوي پوځي دپیژندني اووژل کیدو لنډه یادونه پکي لیکل شوي وه . دا داسي وخت و چې دجهاد اومجاهدنوم چې په انګریزي ژبه کي هیڅ سابقه اوترجمه شوي لغت نه درلود دغي نړیوالي ژبي خپل کړي اومنلي و داهغه وخت و چې مولوي خالص دامریکي جمهوررئیس ریګن ته چې دنړي دیوستر استکباري ځواك قدرت ورسره و اسلام ته ددعوت کولو جرآت اوشهامت کولاي شواي مولوي خالص دهـ نه جهاد اودافغانانو دقربانیو له برکته ددي توان، چانس اوجرآت خاوند ګرځیدلي و چې امریکي جمهور رئیس ته ووایي مسلمان شه !

دا داسي وخـت و چې حکمتیار دملګروملتونوپه غونډه کي دګـډون په مهال دامریکي جمهوررئیس دلیدني لپاره نه و منلي اودهغه دبیابیا غوښتني له امله بي هم ورسره ونه لیدل .

په همدغه وخت کي داروپا اوامریکا په لوکسو بازارونو اومارکیټونو (پکول) دیوه ډېر پرفروشه لباس په توګه عرضه کیده په جرمني کي ددغسي یوي لويي مغازي تصویر چې پکولونه پکي دډېري قیمتي متاع په توګه ایښودل شوي وو دعروة الوثقي مجلي خپورکړي و.

څوتن پکول زموږ په خپل هیواد کي دنفرت او وحشت دنخښي په توګه پیژندلي شي .

خبره په مسکو کي دهغوپوځیانو دځانګړي هدیري وه چې دافغان غازي دتوپك په ګولیوبي دژوند لـه خوږولاس

باتشکراز: روزنامه مسلم

د «شهادت» دویم ادبی لمرخرک

دوپاړ ځای دی ، چی دسیاسی ، مطبوعاتی اوحماسی «شهادت» له مری نه داخل هغه غر بهاډیره موده وروسته را اوچت شو ، چی کلونه ستاسی دمغزو په کړ لیچونوکی انګازن و ، خو ځینو اړتیا وو اوغیکرتیا رو خپ کړی او چپ کړی ، ، داغر د «شهادت» بناغلیو مینه والومخکی هم د مباشتی په سر اونیمایی کی اوریدلی و ، چابه په اوریدو دخپلی شاعری او ادبی سلیقی اندازه لګوله ، چابه دتوروله ښکلاپیژو اوهنری ذوق و شوق خوند اخیست ، چاته به دشعروشاعری ډګرته دورننوتو یوه هڅوونکی بلنه وه اوځینو خو به تری خرما اوثواب دواړه ترلاسه کړل ، غرض دا چی دا غر دهیڅا اوهیڅ لوستونکی لپاره بی ګټی میدان نه و ا خو همدغه دګټی دمیدان د پراخوالی اوهراړخیز والی اندیښنه وه ، چی خبره یی دکیفی تول پرځای یواځی کمی ته وروسله .

لکه هردویم ګام چی لومړی دهغی دکاواکی په پوهیدو کوټلی کیدای شی ، دغسی په همدی تکل موږ هم غواړو دخپلی هنری پرمختیا او ودی په هیله دخپلی نهیدلی اوړنکی ښکلی ښولتی دغونی اوسمون لپاره خپلی پرونی نیمګړی بیارا غبرکیدوته پریږدو. موږ لکه پرون چی په سیاسی اوپوځی د کړکی له یوه بی سابقی اوناآشنا حالت سره مخ وو، دغسی مو نن هم نوی فرهنګی او ادبی لوری یوی ځانګړی او ژوری بیاکتنی ته اړتیالری ، په دی معنا چی پرون موږخانونه دیوی سیاسی او پوځی اړتیاله مخی د حماسی اوټینګاری (مقاومتی) ادب هستونی او ایجاد ته اړ او مکلف کړل ، خو نن مود فرهنګی انقلاب په پرونیو سرځپوکی روژلی کول (نسل) نور دی ته اړنه دی ، چی د «سروالی» اود سروالی آدامه به یی د ژوند موخه او هدف وی . دمهال او زمانی له پرمختیایی بهیر سره یون دفرهنګیانو او لسونو ځانګړنه او لوښه (خصلت) وی .

نورنو وینه وینځل د دی ځپلی او رنځیدلی اولس دفکر وینه وچول دی ، نورنورمود پرونی قلموال په دی ښه نه ایښی ، چی نن هم دپرون په څیر وینه په قلم کی ولری ننی قلموال ته پکاردی ، چی پخپل قلم کی د زړه دوینی پرځای د فکر خولی وڅځوی ، چی هغه په وینولیکلی پرونی برخلیك ته یوه تلپاتی رنا اوځلاوروبښی .

نن باید زموږ قلموال دپرون په څیر ژمن نه وی ، چی ژوند ورته د انقلابی حماسو استراو حقیقت ښکاریده لکه پرون چی جوش او ولوله د وخت اړتیاوه ، نن هوش او سره سینه لرل باید د یری چانس ولری .

دننی قلموال ټولنه تریرونی حماسه زیږوونکی انرژی زیات هم زیږوونکی ځواك ته اړه ده ، ځکه پرون وراتول او ړنګول موږ او زموږ دښمن په کپه کړی دی ، خو نن رغونه او بیا ودانی یواځی همدا مور ته په میراث را پاتی ده .

که زموږ قلموال نن هم د پرون په څیر په همغه پرونی کنده تول وکړی اونن هم خپل سیانی کول ته په قلم کی د پرون غوندی وینه وڅځوی ، نو په لوی لاس به دخپل ارمان له سپځلتیا (خپلواکه ، سوکاله اوبیا ټولنه لرل) سره خپله مینه شکمنه کړی ، یعنی پرخپل سیانی کول اونسل به یی همغه بده ورځ لورولی وی چی باندی خپلو کورنیو او بهرنیو غلیمانو راوستی وه .

ستومانه مه شی ، !

له دی دومره سرخوږ نه مو موخه داوه ، چی تاسی ښاغلی قلموال زموږ ددی ستړارمان د ځپاندی بیړی د پوری ایستو په هیله په دی تکل راسره په دی بیړی کی راسواره شی ، چی :

واقعیتونو ته غاړه ایښوده یومنلی اوجوت حقیقت دی ، ډیرجګ لوځه پکار ! که په هسی دعوو څه کیدای شوای ، اوهسی به کوره کوره کولو خوله خوږیدی شوای ، نوله دی څه کم ځلورو کلو راهسی به مو دا اولس کومی خوږ څه چی ګټین وای راځی چی په یوره سپځلتیا ژمنه وکړو ، چی خپلی ټولنیزی نیمګړتیاوی اوناخوالی دیوه لطیف او وریښمین حقیقت په توګه د «شهادت» په هنداره کی په یوه هنری بڼه وځلوو .

ټولو فرهنګیانو ، لیکوالو اوقلموالو ته د زړه کاله ته د راتك بلنه ورکوو . ښه څه راولیږی ، چی اولس مو ښه څه ولولی .

ځانځنه

دشهادت ادبی پاڼی ته !

کاروان

یوځوك

شرنګیږی می په روح کی درباب په څیر یو ځوك
ما ، یوسی دسندرو د درباب پـه څیر یو ځوك
سیلونه د کوتـرو رانه لـری لـری ګـرځـی
پیغام می د زړه ناست دی دعقاب په څیریوځوك
په لاس کی به له ژامی دښامـاره واخلی لال
راشین به شی د ځانګی د ګلاب په څیر یو ځوك
دژوونومـرغـلری دکـیتولـه زنګـه ساتی
پیدا به نـه کړی ښیاکله د آب په څیر یوځوك
پاچـا د نوش دارو قافلـی تـن راولیـږلی
رستم پـرون وژلـی د سهراب په څیر یوځوك
بیـانـه راځـی ماشوم غوندی بی ځکه ناژوم
خدای مه کړه مرورشی د شباب په څیریوځوك
له تندی نه بی ډك کړل دغاټو لـو کنـډولونه
روان پـه بیابان کی دسراب په څیر یو ځوك
خپروته په مسـتی د سـندرو اویـه ورکړی
راځی به دنغمـو د انقـلاب پـه څیر یو ځوك
کـاروان بـی درسـته شپه په ترنم ترنم وایم
د سوو غـزلونو د کـتاب پـه څیر یو ځوك

پیښور ، ۱٦ /۱۱/ ۱۹۹۵

غزل

وامی روه عمره پـه تـادی ورځـی	ګـونـدی راشـی بیا د ابـادی ورځی
ستړی شو زشتی مو ډیری ولیدی	ګـهی کـړه دحسـن بـه وادی ورځـی
شـل پـیری لاډیری دورانـی وشوی	ځـو بـه وی لاځـو د بربادی ورځی
موږکه له دی شپو ورځو تر پوزی وو	شوی زمـوږ لـه چغـو فریادی ورځی
خـاوری لـه غمـونـو پـرسراړوم	ګـوندی راشتـی شـی دښادی ورځی
سرچـی دغلیم مو په تهداب کیږدو	هـاورځـی بـه بـولو بنیادی ورځی
یوه شپه لکـه شمه هـکه غاړه ژوند	ارزی خدایږو مسل کاله عادی ورځی

خدایه کـه مـی یـوه دعاقبلیږی نن
غواړم د افـغـانـ د آزادی ورځـی

* * *

ډیرکښته پورته په غرو رغوکی
لاړم اوځـیر شـوم په قافلوکی
دخـدای د لاری بنیـادم نـه و
په دومره کـهو پلیو ، سـپروکی

پسرلی

ادبی وزمی

له ګلدستی نه

حکایت

چاډیری په نوشیروان عادل باندی وکړ ، چی فلانه دشمن دی حق تعالی له جهان واخیست ، وی یی هسی دی اوریدلی دی ، چی ما به پریږدی ؟

قطعه

دغلیم په مرګ چی واوری هرګزمه کـړه شادمانی
نن دی لار ، سبا به ته ځی دا ځای نه شته ودانی
عـاقبـت لـه دی جهانه تله دهر چا په ناکام دی
ته هم نـورو غوندی وکړه یوځو ورځی کامرانی

حکایت

شیخ وایی قدس الله سره العزیزچی شیخ عبدالقادر ګیلانی رحمة الله علیه می لیده چی مخ یی په دیوال د کعبی ایښی و ، مناجات یی کاوه چی ای رب العلمینه ! ومی بخښی او که نه لایق د عذابو نویم ، په قیامت می نابینا پاځوه چی دنیکانو له مخه شرمندنه شم .

قطعه

مخ همیش د عاجزی په خاور ومږم	هرسحرچی ستاله لوریه راشی باد
چی یودم می له خاطره بیرون نه یی	دا بنده په رحمت هم کړه کله یاد

شعر او شاعری

ادب په اجمالي توګه سره په دووبرخو باندي ویشلي شو . شاعري او نثر . دایو تاریخي حقیقت دي چي په نړي کي شعر تر نثر دمخه پیداشوي دي . دایوه عجیبه غریبه خبره ده چي دنړي په هره ژبه کي به همدغه شان اوتوګه کارشوي دي . دلته داسوال پیدا کیږي چي اخر داولي ؟

کله چي موږ په دي برخه کي پوره غورووکړو ، نو به حتماً موږ په دي وپوهیږو . هغه داسي چي کوچني تر نثر نه دمترغو خبرواترو او جملو سره زیاته مینه ښکاره کوي . نو انساني تهذیب هم کله چي لاپه خپل ابتدایي حالت کي وو ، هغه وخت یي هم دنثر په مقابل کي نظم ته ترجیح ورکوله .

انسان یوازي دتوجیه اواستدلال له مخي یو،خبره په خپل زړه کي نه محسوسوي ، بلکه دده سره په دغه معامله کي دجذباتو هم پوره برخه ده .شاعري دانسان محسوسات ، ترنثر زیات او په غوره طریقه سره وړاندي کولي شي . په یوناني ژبه کي دشاعر معني دجوړوونکي دي . ګویا شاعر کوم شي تخلیق کوي دشاعري یوشمیر زیات تعریفات شوي دي . ولي تراوسه پوري کوم داسي جامع تعریف نه دي شوي چي دهغهٔ په دننه کي دي شاعري دخپلو ټولو محاسنو سره یوځاي راښکاره ش . دانګریزغوره اولوي ادیب ډاکتر جانسن څخه کله چي دشاعري دتعریف کولو په برخه کي پوښتنه وشوه نو هغه وویل : « محترما ! داخبره ډیره آسانه ده چي کوم کوم شیان شاعري نه دي » نوموړي دخپلو لغتونو د ترتیب کولو په وخت کي دشاعري ژباړه « موزونه لیکنه » کړي یو بل انګریز مصنف کارلایل دشاعري تعریف په باب وایي چي « شاعري دښکلامترنم تخلیق دي » که ربښتیا وواېو نو شعرداوازونو اویاالفاظو داهنګ مجموعه دي . ولو دغه اهنك کله چي دشعر دالفاظو اودالفاظو د حروفو څخه پیدا کیږي هلته نو دهغه اړیکي دهغه دمعني سره هم وي . همدا وجه ده چي آهنګ په معني تأثیر کوي اومعني بیا په خپل ځاي په آهنګ باندي اثر غورزوي ، داخبره په ځاي ده چي آهنګ دشعر دښکلا تاثیر زیاتوي مشهور انګریز شاعر اونقاد میتهوارنلډ شاعري ته د ژوند تنقید ویلي

دي . نوموړي وايي چي دشاعري موضوع انساني ټول اعمال اوخیالات دي .

په تېره بیا هغه خیالات کوم چي دانساني نسل ذهني تجربي اودمعنوي لوړي حوصلي ذخیره دي.

دشاعر دعظمت انحصار په دي خبره کي دي چي دي ترکومه حده پوري خپلو خیالاتو ته په څومره قوي اوښکلي توګه سره د ژوند سره مطابقت ورکوي . دلته د ته دده خپل مجموعي حیثیت په کار ورځي په دي معني چي دده اخلاقي قوت ، تخیل ، جذبات ، احساسات ، دفکرقوت اودښکلا دمیني د ژوند سره دامیزش په لړکي دهغه په هنرکي کومه فوق العاد ګي پیداکیږي . که چیري داسي نه وي ، نویوه ډیره ډیره لویه او غوره موضوع هم بی تاثیره کیږي . دشاعر اوشاعري تردغو تجزیو دلیدلواوپه نظرکي نیولو وروسته موږ ته په خپله د دي فکرپه کار دي چي ښه نو اخرداشاعري څه شي ده

موږ دا وینو چي دنثر په مقابل کي انسان نظم په ډیره اساني سره یادولي شي . دنړي ترټولو غوره خیالات چي راتلونکي نسلونه یي یادوي هغه په نظم سره ویل شوي اووړاندي شوي دي.

په نړي کي په زرهاوو داسي نظمونه ویل شوي دي چي په هغو کي دنړي ترټولو غوره او چیده خیالات په بهترینو الفاظو اوبهترینه توګه سره خوندي شوي دي . کله چي موږ هغه وایو نه یوازي خو شحالیږو بلکه موږیه ژوند کي تازه ګي اوخوند محسوسوو .

په شاعري کي الفاظ دموسیقي په څیر مترنم کیږي اوموږ ته دهغو په دننه کي دمعني سره سره هغه ښکلا هم په نظر راځي کومه چي اړیکي یي دهغه شعر په ظاهر یعني شکل کي خوندي وي . یعني داسي عبارت چي دمعني سره برابر اوسروخوري ، که چیري موږ وغواړو چي یو چاته کومه کیسه واوروو ، نو باید هغه الفاظ اوداسي کلمات به کي استعمال کړو چي دهغي کیسي دصحیحي معني په پوهولو کي مرسته وکړي . کله چي موږ موزون ترین الفاظ ورته وټاکو او په کیسه کي دهغو ي نه کارواخلو ، نو هغه وخت بیا دغه کیسه دیوه نثر شکل او بڼه ځان ته غوره کوي . ولي کله چي موږ بیا

دیوي داسي ښکلي منظري کیفیت بیانول وغواړو کومي چي زموږ روح یي خوشحال کړي وي ، نو دلته بیا دداسي الفاظو ضرورت دي چي په جذباتو کي هیجان را پیداکړي . یعني د خوږلت سره سره نغمه هم وي . داځکه چي دکیفیت اړیکي دهغه دداخلي تاثیر سره دي . دهمدي کبله دالفاظو انتخاب اوټاکنه هم باید یوازي دهغي منظري خارجي عکاسي نه وي بلکه دشاعر په زړه کي چي کوم داخلي تاثیرپروت وي هغه باید دالفاظو په آهنګ باندي څرګند شي . دخیال اوالفاظو ښکلي امتزاج دیوه غوره هنر څوښتنه ده . ددواړو یوله بله یه بشپړ ، توګه سره نښلول اوپیوند کول حتمي اوضروري دي . داپیوند باید یوداسي پیوند وي چي هیڅوك ونه شي کړاي هغه یو له بله جلا کړي . دهمدي کبله ځیني کسان وایي چي و شاعري دجذبي بي عیبه اوبشپړه داسي څرګندونه ده چي په هغه کي بهترین خیال په بهترینو الفاظو کي اداشي »

انسان لا دابتدا نه خپلي بهترینې خوشحالي اوغمونه په منظومه توګه پیل کړل . په پخوانیو زمانو کي کله چي انسان په لیکلو اولوستلو نه پوهیده ، هغه وخت په شاعر دجګړي میدان ته تلواودخپلي فتحي اوبریالیتوب نغمي به یي ویلي . هغه وخت شعرونه په ډیره موثره توګه سره ویل کیدل نن ورځ موږ دشاعري تصور په کتابونو کي دچاپ په شکل سره کوو . ولي دکومي زماني اووخت نه چي موږ خبري کوو، هغه وخت خلکو لیکل اولوستل زده نه وو . اوس هم په ځینو وروسته پاتي قبیلو کي شاعر شعرونه دیادونه وایي :

شاعر خیال ته الفاظ اوالفاظو ته موسیقي بښي . دغه ټول یوله بله ګډیږي او یو مترنم کیفیت پیداکوي . ګویا الفاظ درباب دهغو تارونو په څیر دي چي کله رویابي هغه سرکري توددیري لري ته دانساتانو زړونه راکاږي . شاعر هم همداسي کارکوي . ولي دي دغه کاردخیال اوالفاظو په ذریعه کوي . هغه هم په دي توګه چي دي خیالات به داسي موزونو الفاظو کي اچوي چي که چیري دهغو لړ ترلړه ترتیب بدل کړي شي ، نوارزښت یي ختمیږي .

* * *

پرغنلك وینو لـه پـامه هاخوا
څوتنی تخښی له پامه هاخوا
دا یو جرعه به څه میکده وی
خمان به هم وی له جامه هاخوا

شفیق

* * *

پـه معـبد وګـی ، په مدرسو کی	وسـوسـوډوب کـړم به وسوسوکی
چـی میـکدی تـه شـوم وردننه	هلته هم پام و ، بس په پیسوکی

* * *

شعر ښکـلاده لـه ښکـلوزیزی	د ژونـد نشـه ده لـه ملوزیزی
یا د خوږمن زړه د پرهرځریکه	یا سره لمبه ده ، لـه سولوزیزی

* * *

چی به دستوریو آسـمان وی ښکلی	کـه بـه دخـاورو جهان وی ښکلی ؟
حـسن بـه نـاځـی بـه پـلوشـوکی	کـه بـه ترحورو انسان وی ښکلی ؟

* * *

ښټان می رب دی زیـی مربوب یم	بنده دده یـم کـه خـوب ناخوب یم
غـرق پـه اوبـو کی کله اوبه وینی	نعمت یی نه وینم په نعمت ډوب یم

عبدالقادر خان

* * *

ښایست نه ګل و ، نه باغ ، نه غرو	نـه سپینه اوښکـه ، نه سندرو
څـه ځلیـدلـویـه هـرهـر څه کی	کـه ووږ شـررو ، کـه ځـلندلرو

ادبی قاموس

تردی سرلیك لاندی غواړو وخت پروخت په ادبی مسکالواو موضوعاتو پوری اړوند تعریفونه وړاندی کړو .

ادبپوهنه

ادبپوهنه هغه علم دی چی د ادبیاتو په باب څیرنه پکی کیږی او ادبی مسایل راسپړی ، او دغه لاندی ځانګی لری :

۱ – ادبی تیوری
۲ – ادبی تاریخ
۳ – ادبی نقد

پردی ستروځانګو سربیره ځینی نوری څیرمه یزی ځانګی هم لری :

الف : د ادبپوهنی تاریخ : د ادبپوهنی تاریخ له ادبی څیړونکو سره د ادب پوهنی په ټولو ځانګړکی مرسته کوی .

ب : مشنپوهنه .

ج : کتابپوهنه

ادبپوهنه له فلسفی ، ښکلاپوهنی ، هنر پوهنی او ژبپوهنی څخه هم مرسته غواړی

د«چی» په ځای د «څو، ترڅو» لیکنه سمه نه ده .

هره ژبه ځانته فونتیکی اوګرامری خصوصیات اودافادی لاره لری ، چی په زیاتوماردوکی د کومی بلی ژبی د فونتیکی اوګرامی خصوصیاتو اودافادی له لارو سره سمون نه لری .

دپښتوپه پخوانیو ګرامرلیکونو په دمعاصرو ګرامر لیکونکو لوی اعتراض دا و ، چی ګوندی هغوی د پښتو ژبی ګرامر د عربی کلاسیك ګرامر په قالب اوچوکاټ کی لیکلی دی . هغه غلطی خو اصلاح شوه . زموږ د وخت لویه غلطی داده ، چی زموږ اوس اکثریوه منوړ او په اصطلاح په ژبه کی واردکسان د پښتو جملی دنورو ژبو په چوکاټ کی لیکی اودی ته نه ګوری او یا پری نه پوهیږی چی پښتو دافادی ځانګړی چوکاټ اودجملی جوړولو مستقل قالب لری.

ښاغلو لوستونکو به ډیر ځله داسی عبارات لیدلی وی : « داکار ضرورت نه نیسی » ، « یوکال دولس میاشتی په برکی نیسی » . « په ترافیکی پیښه کی یوه تن یوه سترګه له لاسه ورکړه » اوداسی نور چی معمولاً د دری په تیپ لیکل شوی اودداسی متونو ترجمه ګڼله کیږی :

« این کارضرورت نیمګیرد » . « یك سال دوازده ماه‌دربردارد » . « درواقعهٔ ترافیکی یك نفر چشمٰ از دست داد » دغسی دری جملی که دطرل یا انداز له نظره هرڅنګه وی یدی نه ښکاری خود هغو په دغسی کټ مټ قالب کی په پښتو جملی هیڅکله د پښتو فصیحی اورواني جملی نه دی . دغسی ، لیکنی د هغو میرزاوزمو کسانو کار دی ، چی په دری کی لایق او وارددوی ، خو پښتوبی نوی زده کړی وی اودهغی په نورمونو او پرنسیپونو پوره بلد نه وی .

دډیرتعجب ځای دا دی چی زموږ زیات لیکوال اوپه پښتو پوه اووارد کسان د پښتوځینی داسی جملی لیکی چی کټ مټ له دری یا بلی ژبی څخه ترجمه ښکاری او دهماغی ژبی په چوکاټ کی افاده شری وی ، چی د پردی ژبی له چوکاټ پرته دهغو ساری نه په متونو کی او نه د اولس په ژبه کی لیدل کیږی اود هغو لیکل له ورایه د لیکوال په کمزوری اوضعف دلالت کوی . له دغو مثالونو څخه یوه هم د «ترڅو ، څو» غلط اوبیموروه استعمال دی ، چی په دی وروستیو وختونو کی متأسفانه د «چی» په ځای ډیرڅه معمول شوی دی.

په دری ژبه کی داسی عبارات معمول دی : «آمدم تا ترابیبنم » ، « این کتاب را خریدم تا اورا بخوانم » ، « مهمان را عزت بده تا خفه نشود » اوداسی نور . زموږ میرزاوزمه لیکوال یا لیکوال وزمه میرزایان ددغسی جملو په تقلید په دغه مفهوم دپښتو جملی داسی لیکی:

« راغلم ترڅو تاوګورم » ، « داکتاب می وپیره ، ترڅو یی ولولم » «میلمه ته عزت ورکړه ، ترڅو خفه نه شی » . په داسی مواردوکی د « چی » په ځای کله «ترڅو » اوکله «څو» استعمالوی . حال دا چی دا استعمال بیخی غلط اومحض د ړندو سترګو تقلید دی ، ځکه چی :

۱– په داسی مواردوکی د «چی» په ځای د «څو» راوړل ډیرځله ددی سبب کیږی چی د مطلوبی معنا په ځای معکوسه معنا ورکړی لکه :

«میلمه ته عزت ورکړه ، ترڅو (څو) خفه نه شی . یعنی ترهغه وخته یی عزت کوه ، ترڅو چی خفه شوی .

« دمزدورپلار خدمت کوه ،ترڅو درنه خوشحاله شی » ددی جملی معنا به دا وی ، چی کله چی خوشحاله شول ،بیا یی نوخدمت کری ، که نه .

حال دا چی دمور اوپلارخدمت هروخت لازم دی . دغه ډول جملی زښتی ډیری دی ، چی هلته د «چی » په ځای د «څو» ترڅو » استعمال بیخی غلط دی.

۲ – «چی » یوه معنا لری او «څو » بله . البته په دری ژبه کی د «تا» او «که» سره کار نه لرو ، خو په پښتو کی دیوه په ځای دبل راوړل مطلق غلط کار دی ، حکه چی یوه دبلی مفهوم نه افاده کوی .

دڅومعناداده :

۱ – د «څومره» د پوښتنی لپاره ، لکه : «ته څو زامن لری ؟» .

۲ – دناټاکلی اندازی اوغیر معین شمیر لپاره «څوپه څووار» ، ترڅو چی ... »

البته یوازی په خیرالبیان او روښانی رساله کی د «مقدار ، اندازه» په معنی راغلی دی . بالعکس «چی »دربط لپاره په دغو مواردو کی استعمالیږی :

۱– له فعل سره د هغه مفعول دربط لپاره ، چی جمله وی : « هغه وویل چی ... هغه ولیدل چی ... » .

۲ – دتشخیصوونکو تابعو جملو لپاره : « هغه کور چی موږ پکی اوسو، هغه سری چی ... » .

۳ – دوخت ټاکونکو تابعو جملو لپاره ... ته چی احمد ته ورغلی ، هغه څه وویل ؟ ... » .

٤ – دمقصد اوهدف ښوونکو تابعو جملولپاره : « راغلم چی تا وګورم » .

٥ – دسبب اوعلت دښوونکو تابعو جملو لپاره : « ویریږم چی ... ، خپه یم چی ... »

٦– په تابعو جملو کی دشرطیت څرګندولو لپاره :«چی ویی غواړی په دی خوله ، نو ویه یی خوری په کومه خوله ؟ » .

ښایی چی ځینی نور موردونه هم ولری ، خو هیڅکله «چی» د «څو» «ترڅو» په معنا او «څو ، ترڅو » د «چی » په معنا نه دی راغلی اودیوه په ځای دبل راوړل بیخی غلط کار دی . دڅو او چی داستعمال دتوپیر لپاره یی یوازی دخوشحال له اشعارو یو یو مثال وګوری :

* * *

څـو واڅـلی لـه غلیمه انتـقـام
مردنه خوب کا ، نه خواره خوری ، نـه آرام
څو څو قـرنـونـه وریـانـدی تیـرشی
شیـرین صـورت بـه یی په بل بل پیرشی

* * *

چـی پـروژه نـه لـری ، غـوروونه نه لری
شـرم ، انـدوه بـه لـه چـانـه لری
چی بخت یی تورشی ، عقل یی تورشی
مخ یـی پـه پـلو ، پـه شرو شور شی

زیری

رغاندل

شو ده چی رغاندی ، ثنا د دوغ کا	هرڅوك پوهیږی چی دا دروغ کا
قـرق د ویـلو ، خـسـرو ډیـردی	وکیل چی بدوی ،روغ کار ناروغ کا

مرغلری ۷۱۲

* * *

سفله پخپله خپل ځان رسواکا	چی دولتمن شی غیـری هـوی کا
سفله قاضی مه شـی شراب دواکا	سفله طـبیب مـه شی رنځ لا دواکا

خوشحال

* * *

کـه واړه خلـك ثنـا دخـدای کـا	نورهر څه پریږدی خو دی های های کا
ثنـایـی دیـره ده تـرحـساب تیره ده	څـوك بـه یی کـومه ثنا په ځای کا

* * *

بومرتی خاوری زیبا صـورت کا	زړه یـی کـڅـوړه د معـرفـت کا
ګـوریـایی ژبـه پـخپـل صفت کا	بیایی لـه خـاورو سره لت پت کا

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۱۰۳۰) سال هژدهم یکشنبه (۱۲) قوس ۱۳۷٤

قیمت (۳۰۰) افغانی ، (۳) روپیه

الهي لاربنووني

بیشکه داسې شیطان دي چي ویروي تاسي له دوستانو خپلو (چي کفاردي) نو مه ویریږي تاسي له کفارو ! اوویریږي له ماڅخه که یئ تاسي مومنان (په حق سره) اوندي غمجن کړي تاخفه کسـان چي منډي وهي دوي په جانب د (کفر) بیشکه دوي به له سره هیڅ ضررنه رسوي الله ته دهیڅ شي (هلکي ضرررسوي ځانونوخپلو ته) اراده لري الله ددي چي مقرر نکړي ددوي له پاره هیڅ برخه په آخرت کي اوددي دوي لره عذاب وېر لوي (دوزخ)

(ال عمران - ۱۷۵ - ۱۷٦)

نبوي لاربنووني

له حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت دي چي حضور (ص) فرمایلي دي . تاسو به دیته نسب والد خلك وویني خلك چي دجاهلیت په زمانه کي بهتروو. هغه په اسلام کي هم بهتردي چي ددین په کار پوه شي .او تاسو به ووینئ چي بهترین خلك به ددي حکومت اوامارت دکار نه سخت نفرت کوي او په خلکو تولو نه خراب (دقیامت په ورځ) دوه مخي کسان دي چي یوي ولي ته په یو مخ ورځي (یوه خبره کوي) اوبلي ولي ته په بل مخ ورځي (بل شان ورسره کوي) . (بخاري -مسلم)

احکام دین خودرا بیاموزیم

مکروهات وضوٴ

مکروهات وضوٴنه (۹) است که باید ازآن پرهیزکرد

۱- ترك آداب ومستحبات وضوٴ وخلاف آن عمل کردن ، ۲- مصرف کردن آب ، زیاد ازحد ضرورت ، ۳- مصرف کردن آب کمترازحد ضرورت که درآن تصور کوتاهي درشستن اعضابرود ،٤- صحبت کردن بلون ضرورت درهنگام وضوء ، ٥- آب رابه شدت به صورت ودیگر اعضا زدن ودرهنگام شستن آنهاآب راپاش دادن ، ٦- شستن اعضا بیشترازسه دفعه ، ۷- باآب تازه ،سه بار مسح کردن ، ۸- بعدازوضو به دستهاآب انداختن ، ۹- بلون کدام علري شستن اعضایي که شستن آن دروضو ضروري نیست .

په مزارشریف کی دهماهنگی شوری مهمه غونډه روانه ده

په غونډه کی د«شوری» په راتلونکی سیاست غورکیږی

په غونډه کی استاد خلیلی ،جنرال دوستم او جریر ګډون کوی

مزارشریف - دلیندي ۱۱ مه :

له مزارشریف نه دشهادت خبریال رپوټ راکوي چي په هغه ښارکي دهم آهنګي شوري دمشرانومهمه غونډه روانه ده .

خبریال زیاتوي پـه دي غونډه کي دحزب وحدت اسـلامي مشر استاد عبدالکـریم «خلیلي» دجنبش مشر سترجنرال عبدالرشیددوستم او دحزب اسلامي استاځي همایون « جریر» برخه لري .

خبریال وائي چي په غونډه کي دشوري په راتلونکي سیاست اوکړنلاره بحث روان دي اوهم له «طالبانو» اوکابل اداري سره دچال چلن په ځرنګوالي غورکیږي .

خبریال څرګنده کړه چي په غونډه کي په دي ټینګارشوي چي «شوري» به خپل پوره پیوستون ژوندي اولامضبوطه ساتي اودهیواد دیوه مؤثر ځواك په توګه دملت دژغورني اوسولي دراوستوپه لارکي خپل اساسي نقش ترسره کوي .

خبریال وایي چي په غونډه کي په دي موضوع چي طالبان په انحصاري روش کي دکابل ترادارې هم وړاندې ځي تشویش څرګندشوي اوویل شوي چي بایډ په مذاکراتو کي ورسره په داسې روحیه برخورددونشي چي ګني هغوي پوغالب قوت دي، بلکي داورته واضح کړاي شي چي دهم آهنګي شوري له ګډون پرته دافغانستان دبحران حل ممکن نه دي اوکه څوك ددي فکرکوي نوپه اشتباه کي دي .

قاتل محمد صلاح الدين بازداشت شد

شخصي کـه مظنون به قتل محمد صلاح الدین ایدیترهفته نامه «تکبیر» بود ، بازداشت شده است .

به گزارش روزنامه نیوز، بینظیربوتو صدراعظم پاکستان روزسه شنبه حین سخنراني درمراسم اعطاي جوایز « انجمن خبرنگاران پاکستان» بازداشت قاتل محمد صلاح الدین رااعلام داشت .

قبل برآن مجیب الرحمن شامي ایدیتر هفته نامه «زندگي» ازحکومت پاکستان شکایت نموده گفت :دولت درامربازداشت جنایتکار یاجنایتکاراني که مرتکب قتل «محمد صلاح الدین » شدند، ازتعطل کارگرفته ومجرمین را بازداشت نکرده است.

به نوشته روزنامه فرانتیرپوست :

مذاکرات میان شورای همآهنگی وطالبان به مرحلهٔ نهایی نزدیك شده است

اگردرپروسهٔ مذاکرات سرعت ایجاد نشود جریان مذاکرات قطع خواهد شد

پشاور - ۱۱ قوس :

مذاکرات میان شوراي عالي هماهنگي وطالبان به منظور تشکیل جبهه مشترك علیه اداره رباني به پایه اکمال رسیده اما اختلافاتي درمورد تشکل سیاسي آینده کشور، مانع اعلام رسمي پایان مذاکرات ونتایج آن شده است .

روزنامه فرانتیرپست به نقل ازمنابع افغان درپشاور مینویسد :

مسوده نهایي به پایه اکمال رسیده ، امابه علت مخالفت طالبان درطرح تقسیم قدرت ، از اعلام آن خود داري شده است .

منبع افزود : اعلام نتایج مذاکرات درمورد عملیات مشترك نظامي وتشکل سیاسي دولت چندروزبعد اعلام خواهدشد .

منابع گفتند : سران شوراي هماهنگي، رهبران طالبان رابه کاربرد تاکتیك «تاخیر» دراعلام آخرین نتایج مذاکرات متهم مینمایند وتهدید کرده اندکه اگر درجریان یك هفتهٔ دیگرنتایج مذاکرات اعلام نشود مذاکرات ناکام تلقي خواهدشد .

منابع طالبان درپشاور شرکت هیئت نمایندگي این گروه درمذاکرات را تائید نموده گفتند که حاجي بشیر ،مولوي جلیل ومولوي عباس مذاکرات شان رابا هیئت نمایندگي شوراي عالي هماهنگي شامل قطب الدین « هلال» ،همایون «جریر» ، جنرال پاینده محمد و دوکتورطالب درین زمینه مذاکره نموده وافزوده اندکه نتایج مذاکرات درجریان هفته بعدي ،اعلان خواهدشد .

طالبان درنظردارندکه مذاکرات پیرامون تشکل سیاسي دولت بعداز انجام عملیات نظامي برکابل آغازشود .

منابع شوراي هماهنگي اظهارداشته اند آنها پیشنهادمذاکرات به طالبان نموده اند اماجریان مذاکرات بطي بوده و تهدید کرده اندکه درصورت ادامه چنین وضع ماجریان مذاکرات باطالبان را قطع خواهیم کرد.

شوراي هماهنگي وطالبان درجریان شش ماه گذشته باهم مذاکرات داشته اند ولي تاکنون نتیجه ملموس بدست نیامده است .

احداث میدان هوایی درهزاره جات دلیل مداخلهٔ ایران درافغانستان نیست

حسن جعفری

تهران - ۱۱ قوس :

یـك مقـام بلندرتبه حزب وحدت اسلامي درتهران اظهارداشت که احداث میدان هوایي درمناطق مرکزي افغانستان دال برمداخله ایران درامور داخلي افغانستان نیست .

اظهارات حاجي محمد حسن جعفري دربي آن صورت مي گیرد که گفته مي شود مولوي جلال الدین «حقاني» ایجاد این میدان هوایي رادربامیان،مداخله ایران درامورداخلي افغانستان خوانده است .

قرارگزارش رادیوتهران : وي دراین رابطه گفت : میدان هوایي مذکور یك پایگاه هوایي ملکي بوده ومادرهرمنطقهٔي ازافغانستان کـه چنین پایگاه هوایي احداث گردد ، ازآن استقبال مي کنیم .

جعفري افـزود : افغانستان به اعمارمجدد نیازمـند است ومااز ایران ،سازمان ملل متحد وهمه کشورهاتقاضا داریم تادراین جهت بامردم افغانستان همکاري نمایند .

طبق یك گزارش دیگررادیو تهران٬یك نطاق حزب وحدت اسلامي دراسلام آباد ازتلاش هاي ایران درجهت حل مسالمت آمیز مسئله افغانستان قدرداني نمود .

ازسوي دیگر آقاي عباس «میرزایي » نماینده حزب وحدت اسلامي درپشاور هرگونه مذاکره رابااداره رباني تازماني که به همه جناح هاوگروه ها سهم متناسب داده نشود، مردود خواند .

نامبرده اظهارداشت ما ازهرراه حلي که حقوق تمامي طرف هاي ذیدخل درقضیه افغانستان درنظرگرفته شود طرفداري وحمایت مي کنیم .

اخبارجالب

دزد باانصاف

کفش دزدي ازقدیم دراماکن عمومي دیده شده است اماآقاي «هیري سانتیلو» مردي است که نوع خاص کفش دزدي میکرده است . سانتیلو که اهل لوس آنجلس مي باشد، اخیراً توسط پولیس به جرم کفش دزدي دستگیرشدوبه هفت روززندان محکوم گردید .

دوره زندان آقاي سانتیلورا ازآن خاطرکم معین نمودندکه نامبرده داراي یك پا مي باشد وتاحال درهرجاکه بوتي رادزدي کرده فقط یك لنگ آنرا برداشته است. سانتیلو که ٤۹ سال دارد چند سال قبل دریك حادثه ترافیکي پاي چپ خودرا ازدست داد . وي علاقه داشت که بوت هاي متنوع وشیك را دراختیارداشته باشد و این ذوق خودراتنها ازراه سرقت کردن یك لنگ کفش دیگران عملي وممکن میدانست.

وقتي پولیس سانتیلورا گرفتارکرد واتاق اورا مورد تفتیش قرارداد (۸۰) لنگ کفش هاي مختلف دراتاق اووجود داشت .

چه دزد باانصافي همان رامیدزدیدکه ضرورت داشت،واي ازدست دزدهایي که دها ، صدهاوهزاران باربالاتراز ضرورت شان مي دزدند وقانع هم نمیشوند .

***

۱۹۰ تن کریم روي

بدنیست بدانیدکه یك مرد عرب ساکن حوزه خلیج پنج برابر بیشترازیك مرد اروپایي عطر استعمال میکند ویك خانم عرب درهمین منطقه چهار برابرخانم اروپایي درعطر ووسایل آرایشي مصارف دارد . این مطلب اززبان یك آرایشگرمشهورفرانسوي نقل شده ودرتحقیقات بانك صادرات امارات نیز آمده است.

آرایشگرفرانسوي میگوید : زنان ومردان عرب درحوزه خلیج بیش از زنان ومردان فرانسه ، انگلیس وآلمان عطر ووسایل آرایشي مصرف میکنند و زنان عرب حدوسط دوازده بوتل عطر درسال ضرورت دارند، به اساس گزارش بانك مذکور کشورهاي عربستان، کویت ، بحرین ،قطر وعمان درسال ۱۹۹٤ به اندازه ۸۰۰ ملیون دالر عطرولوازم آرایش خرج کرده اند . طي همین مدت کشورهاي مذکور ۱۹۰ تن کریم روي رانیز به دستهاوروي هاي مبارك شان مالیده اند .

قابل یاد آوریست که این قدر واردات عطرووسایل آرایشي درکشورهاي عرب خلیج درحالي صورت میگیردکه پنجاه فابریکه تولیدعطر ولوازم آرایش درخود این کشورها نیز فعالیت میکند .

آرایش گري وتجمل پسندي هم ازترقي وتهذیب ناشي میشودوهم از عقب ماني، عقب مانده ها باتجمل عیب هاي شانرا پنهان میکنند .

***

آدم عجیب

یك آدم درساحل عاج که یکي ازکشورهاي افریقایي است برین باوربوده که گوشت سگ بهترین ولذیذترین گوشت هاست . این آدم که شغل معماري دارد، عقیده‌خودرا پنهان میداشت ولي سگ ها ازدست او روز نداشتند تااینکه یکي ازهمسایهٔ ازدست این آدم به دادگاه شکایت کرد و ادعا نمودکه آنمردسگ گرانبهاي اورااسرقت نموده است .

دادگاه مردمذکور راجلب نموده وازاو درخواست کردکه اگرسگ همسایه هاراگرفته باشد واپس نماید، بعدمعلوم شدکه مرد نه تنها سگ همسایه بلکه سگ هاي دیگري رانیز ذبح نموده و نوش جان نموده است .

روزنامه جنگ ۲ دسمبر نوشته است که این مرد ازطرف دادگاه به ۲۰ روز زندان و ۱۲۰ دالر جریه محکوم شده است . درضمن پولیس به این شرط اورا رهامینمایدکه دیگرکاري بکارسگ هانداشته باشد .

اتفاقات وحوادثي که به ندرت پیش مي آیند حیرت انگیزجلوه میکند. امالازم بودکه آن آدم رابجاي زندان وجریه خلعت میدادند چراکه اگراوگوشت سگ رامي خورد انسانهاراکه ضررنمیرساند .

تقدیم از : فریدون افراسیابی

دپاکستان دباندنیوچارو دوزارت ویاند

طالبان دنورو افغانی ګوندونو په ځیر حق لری چی په پاکستان کی سیاسی فعالیت وکړی

اسلام آباد - لیندي ۱۰ مه :

دپاکستان دباندنیو چارو دوزارت ویاند دیوي پوښتني په ځواب کي وویل : پاکستان په افغانستان کـي دکومي ځانګړي ډلي اوګوندپلوي نکـوي او نه پاکستان پدي باب ځانګړي هدف اوغرض لري، چي په افغانستان کي کومه ډله اویاګوندبریالي یاپاتي راشي .

ده په پاکستان کي دطالبانو دتحریك دسیاسي فعالیت په باب وویل : په پاکستان کي ټولو افغاني ګوندونوته دفعالیت اجازه ورکړل شوي ده ، په همدي اساس طالبان هم حق لري، چي خپل سیاسي فعالیتونه ترسره اوهرچیرته ، چي وغواړي غونډي جوړي کړي.

یك افغان به ضرب گلوله کشته شد

افراد ناشناس یك نفرافغان بنام نعیم را درمحل سکونتش درگلبرگ نمبر۲ بضرب گلوله کشتند.

به گزارش فرانتیرپست نزدیکان مقتول میگویند روزسه شنبه در دروازه تك تك شد، نعیم رفت تادروازه را باز کند بعدازبازنمودن دروازه ،افرادناشناس وي را به ضرب گلوله ازپادرآوردند. پولیس وقوع حادثه راتائید نموده میگوید نعیم زماني درواره بضرب گلوله افراد ناشناس کشته شدکه میخواست جایي برود .

هند به پیمانهٔ وسیعی درامورداخلی افغانستان مداخله میکند

هند باکمك هاي وافرنظامي ازجمله ارسال موشك هاي طیاره شکن به اداره کابل ، به پیمانه وسیعي درامورداخلي افغانستان مداخله میکند .

به اساس گزارش روزنامه هاي پاکستان نیروهاي طالبان پس ازحمله اخیر هوایي شان برشهرکابل که درنتیجه آن میدان هوایي خواجه رواش مورد حمله قرارگرفت و خط پروازمیدان مذکور شدیداً صدمه دید، ادعاکرده اندکه نیروهاي اداره کابل بجانب طیارات آنهاموشك هاي ضدهوایي پرتاب کرده اندکه این خود بیانگرثبوت مداخله آشـکار هند درامورداخلي افغانستان است . بـه گفته طالبان اداره کابل درگذشته فاقد این توانایي بود .

به اساس همین گزارش گروه طالبان به هنداخطار کرده است که ازمداخله درامور داخلي افغانستان بپرهیزد ویگذاردکه افغان ها خود شان سرنوشت خود راتعین کنند .

صراحت اوجرئت ته اړتیا ...

شوراتشکیلات سالمي او صالحي اداري په رامنځته کولو کي ئي دهماهنګي شورا ته لاس ورکړي واي ددغه یوکال په دوران کي به نه زمونږ ولس په سلګونوکسان دلاسه ورکول او نه به ئي دغم اوتیارو په دغه اوږده موده کي یوکال نورهم په ویر اوغم کي تیراوه .

په هرصورت هرڅه چي وشول الله (ج) ته به همغسي منظوروو. اوس هم وخت دي چي نوروولس په وینو کي ونه لمبیږي اودغه دویراوغم شپي په روڼ سباوون تبدیلي شي. ددي کارله پاره هم طالبان اوهم دهماهنګي عالي شورا صراحت اوجرئت ته اړتیالري . دکابل دړژیم دله منځه وړلو اوهلته دیوه مستحکم حکومت دجوړښت لـه پاره هرتنظیم که په تنهائي هڅه کوي نودابه دهغوي جوش وي ، نه هوش، ددغه نظام پرځاي دیوه سالم اوثابت نظام دراوستلوپه خاطرطالبان باید پـه دي کي دتزلزل نـه کار وانخلي د نورو تنظیمونو په موجودیت اودهغوي سره په یوه ګډ نظام کي دکښیناستوپه هکله دجرئت مظاهره وکړي . خپل وګړي اوځواکونه دحقایقو نه خبرکړي او هغه توافقات چي دهماهنګي دعالي شورا اودننګرهاردجهادي شوراسره ئي کړي علي الاعلان ، په ډاګه کړي .

که چیري دغه ډلو په ځه اصولو توافق کړي وي، دراتلونکي سیاسي نظام پـه هکله کومي نتیجي ته رسیدلي وي نودهغي رابرسیره کیدل په دي خاطر هم ضروري دي چيٰ دیوي ستري مستحکمي سیاسي اونظامي جبهي دجوړښت په نتیجه کي به دکابل دړژیم اوسني واکمنان دتسلیمدوپرته بله لارنلري . اوکه چیري هغوي په دي هکله نوره هم بهانه جوړئي اوسهل انګاري کوي نوبه هغه صورت کي به دیوه تیزبرید اوناڅاپي نظامي عملیاتو په واسطه دغه نظام پخپله له پښوغورځي .

بهتره داده چي دکابل مظلوم ښاریان چي زمونږدولس یـوه ستره برخه تشکیلوي ددي مصیبتونو څخه وکاږي ، نوردبمباریو او راکټ ویشتلو څخه لاس واخلي، او پخپلو کـي یوموټي کیدو په واسطه دنابېره اوضربتي عملیاتوله لاري دکابل غاصبه اداره له پښوغورځوي او دابه هماغه وخت ممکن وي چي په صراحت اوجرئت سره دخپل یووالي اعلان وکړي .

طرح مستیری ...

ازحمایت هند، روسیه ودیگر نیروهاي مخالف اسلام برخورداربوده بنابرین طالبان درهیچ اتحادي که رباني شریك باشد شرکت نخواهند کرد وامضاي هرگونه توافقنامه بااداره کابل مغایر منافع مردم افغانستان است . دراخیر این جلسه قطعنامه اي صادرشد . درین قطعنامه طرح محمودمستیري مردود، اداره کابل غیرقانوني و مغایرشریعت وهمچنان هرگونه مذاکره وتفاهم بااداره رباني ناممکن خوانده شده است .

براساس همین قطعنامه ،افغان ها اسیران جنایتکارروسیه را تازماني آزادنخواهند کردکه هزاران عالم ودانشمندافغان که درزمان حضور ارتش سرخ درافغانستان اسیرشده اند، آزاد نګردند . مداخلات کشور بیگانه چون هند روسیه ، فرانسه وغیره قطع گردد وتبلیغات یك جانبه وسایل ارتباط جمعي پایان یابد .

براساس گزارش مطبوعات پاکستان نماینده جلال الدین حقاني نیز تلاش هاي ایران را درافغانستان وبخصوص سفراخیر بروجردي رابه افغانستان وملاقات هاي اورا بارهبران حزب وحدت اسلامي وجنبش ملي تقبیح نموده آنرا نمونه آشکارازمداخله ایران درافغانستان خواند .

اماعلي الرغم هشدارهاي طالبان بنابرگزارش- رسانه هاي خبري جهان وزیرخارجه اداره کابل اخیراً باناظم الامور سفارت هند درکابل ملاقات کرده است و طرفین بیشتر روي توسعه همکاري هاي اقتصادي ونظامي بین کابل ودهلي به بحث وتبادل نظر پرداخته اند .

شکست انیر ...

مبصران روسي چنین تحلیل مي کنند: گرچه نیروهاي طالبان درجنوب وجنوب غرب کابل مستقراند اماپیروزي اخیر اداره رباني، طالبان رابه انعطاف پذیري درمقابل اداره کابل ویامخالفان آن اداره ناگزیر خواهد ساخت .

چکری به ...

عملیات هوائي بالاي میدان هوایي خواجه رواش توانستند خط پرواز میدان مذکوررا ازبین ببرند

به اساس گزارش چاریم به میدان هوایي اصابت کردکه تلفات انساني به همراه نداشته است .

طیارات وهلیکوپترهاي اداره کابل نیز مواضع طالبان درجنوب وجنوب شرق کابل را چند بار بمباران نمودند . که میزان دقیق تلفات وخسارات احتمالي گزارش نشده است .

آخرین گزارش ها حاکیست که نیروهاي اداره کابل منطقه چکري را ازتصرف طالبان آزادنموده و درگیري میان طرفین جریان دارد .

سیدمقبول اودهغه

لاندي راوستي دي چي په دغو وسلوکي برازي - ۱۳ دبي ام ، ۲۱ او بي ام ۱٤ دستګاوي شاملي دي .

اوس دنظارشورا افراد دچرخي پله اوده سېزیه سیموکي په حرکت انقلاب اسلامي پوري مربوط کسان لټوي اومسعود ددغه تنظیم دټولو افرادوډنیولو امرکړي دي .

مژده،مژده،مژده

سالون رستورانت افغان

سالوني مجهزباتمام اشباولوازم مدرن داراي بخش هاي زنانه ومردانه، ،آماده برگزاري مراسم عروسي وشیریني خوري همه مراجعین به خصوص افغانها است .

این سالون که گنجایش حدود ششصد مهمان رادارد بهترین محل برگزاري مراسم خوشي وشادماني شماست .

آدرس : ارباب رود شهرپشاور

تیلفون ها :

(٤۳۱۰٤ - ٤۱٤۲۳ - ٤۲۱۳٦)

دننګرهار په پوهنتون کی دبغلان ولایت دتنظیم محصلانو عمومی حلقه پرانیستل شوه

دلیندي ۱۱ مه :

دننګرهارپوهنتون یو مسئول مقام دشهادت خبریال تـه وویل : په دي وروستیو ورځوکي دننګرهار پوهنتون په چوکاټ کـي د بغلان ولایت دتنظیم محصلانو عمومي حلقه پرانیستل شوي ده .

داقتصاددپوهنځي دلومړي ټال محصل محمدالله «زاهـد» دحلقي دناظم ، مولاناشیرآغا«اقانژ» دمرستیال، عبدالروف «مجروح» دارتباط دمسئول اوسانئي دمالي چارودمسئول په توګه انتخاب شوي دي .

دفاتحی اعلان

ملك اعطامحمد، سراج الدین ،رئیس ملامحمد اسحق ، ډګروال علي محمد اومتقاعد ډګروال اصحاب الدین ورونه ، دګمرګ دبانك خزاندار محي الدین (معراج) دننګرهار دقول اردو دنظامي اکاډمي استاد برید جنرال حفیظ الدین «معراج» ، حمیدالدین «معراج»، اواستاد درویش محمدمعراج زامن ، شیرمختارصاحبزاده ، سیدآغا صاحبزاده ، قوماندان میرویس صاحبزاده دخورزامن ، جګړن محمدیاسین ،عبدالسلام غورځنګ اومحمدناصر وریرونه ، محمدهاشم اودګمرګ دبانك کارکونکي ګل آغا زومان ، سیدعمر ماما دافغانستان بانك پخواني مدیر ، الحاج محمدعمردګمرك متقاعد کارکونکي غلام سخي ،سرمعلم الحاج محمدحسن اوصدرالدین اوښي دافغانستان بانك دکنټرول مدیر اصحاب الدین دتره زوي دتربجي متقاعد برید جنرال الحاج معراج الدین دمړیني له کبله چې جنازه ئي پخوا دلغمان دعلشنګ ولسوالي داسلام آبادپه کلي کي دده په پټري خاوروته سپارل شوي دوستانوته خبروکوي چي دتاریته وفاتحه دراتلونکي دوشنبي په ورځ دقوس په ۱۳ مه دسهارله ۹ بجوڅخه دغرمي تر۱۲ بجو پوري دیوي ورځي لپاره دجلال آباد ښارپه سپین جومات کي او د ښځو فاتحه دننګرهاردقول اردو په فامیلوکي دمرحوم په کورکي اخستل کیږي دوستان دي خبروي .

« اناالله وانااليه راجعون »